AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۳/۰۵/۱۸

# د جمهوريت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه
(دويمه برخه)



**په بلخ کې عطا محمد نور**

د افغانستان په شمال کې د (سي، آی، اې) د لسو استخدام شويو اجيرو له ډلې يو هم تاجيک توکمه پخوانی معلم، عطا محمد نور ؤ. نوموړی د جمعيت د باند له جګړه مارانو څخه ؤ، هغه د نظامي رتبو په وېش کې د ستر جنرالۍ رتبه خپله کړې وه، په لومړيو کې له دغه جګړه مار څخه ولسمشر کرزي د جنرال دوستم د لا نورې ځواکمنۍ د مخ نيوي په موخه ملاتړ وکړ او هغه يې پياوړی او غښتلی کړ خو په ټاکنو کې د کرزي مخالف او د خپل باند د غړي ډاکټر عبدالله کلک پلوی شو.

معلم عطا چې په اتيايمو کلونو کې د مجاهد په نوم خپله ږيره اوږده کړې وه او اوږده کالي يې اغوستل خو چې کله په ۲۰۰۱ز، کې د امريکايانو پر مټ واک ته ورسيد، د امريکا د ځينو نورو اجيرانو په څېر يې خپله لويه ږيره وخريله، غربي دريشي او نېکټايي يې وتړله، دا مهال نه جهاد ؤ، نه کفر، نه د ګناه او ثواب يا د حرامو او حلالو تر منځ کوم توپير ؤ.

عطا نور لکه د نورو جنګسالارانو په څېر سرې وژونکې ډلې درلودلې او خپل مخالفين يې په بې رحمۍ سره وژل خو ده پر جنرال دوستم باندې د هغه د ظلمونو او تېريو له امله تل نيوکې کولې په داسې حال کې چې نوموړی د جنرال دوستم په څېر د بشر حقونو پر سرغړونې تورن ؤ او په ميليونونو ډالر يې له دولتي او عامو وګړو له شتمنيو په نامشروع لارو ټول کړي وو.

عطا نور او جنرال دوستم په شمال کې د ځمکو د لاندې کولو پر سر خپل منځي جګړې رواني ساتلي وې، د نوموړو جنګسالارانو تر منځ د ۲۰۰۲ز، کال د فبرورۍ په ۲يمه نېټه سخته جګړه ونښته چې له امله يې نږدې ځلوېښت تنه ووژل شول.

د دغو دوو تنو جګړه مارانو په اړه د کورنيو چارو پخواني وزير علي احمد جلالي ليکي:«د ۲۰۰۳ز، کال په منې کې چې [زه] د کورنيو چارو وزير وم، دوه مياشتې مې په دې کې تېرې شوې چې په ډېرو هڅو او د نړېوال ملاتړ په مټ په اصطلاح د دوو افغان اردو، د لويو جزوتامونو (جنرال عطا محمد نور تر قوامدې لاندې د ۷مې قول اردو) او (د جنرال دوستم تر کنټرول لاندې د ۸مې قول اردو) ترمنځ خپلمنځي جګړې پای ته ورسوم چې په بلخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ولایت کې یې له یو بل سره په ټانکونو، درنو توپونو او راکټونو جګړه کوله. دغو جګړو په میاشتو، میاشتو [او کلونو، کلونو] سیمه بې ثباته کړې وه او د ملکي وګړو د تلفاتو لامل شوې وه.» (علي احمد جلالي: د افغانستان نظامي تاریخ؛ ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کریمي. ۵۵۰مخ)

کله چې په شمال کې امنیتي حالت خراب شو نو د عطا نور او دوستم ترمنځ د طالبانو پر وړاندې ځو ځلې ایتلافونه وشول چې وروستی ایتلاف یې په ۲۰۰۱ز، کې د دوی په ټینګه پای ته ورسېد.



(عطا محمد نور او ډاکټر عبدالله)

عطا نور چې د حامد کرزي د ملاتړ له امله پیاوړی شوی ؤ، د کرزي پر وړاندې د ۲۰۰۹ز، کال او د ۲۰۱۴ز، کال په ټاکنو کې د اشرف غني پر خلاف د جمعیت ګوند له نوماند ډاکټر عبدالله څخه په ناقانونه توګه ښکاره ملاتړ وکړ، د قانون له مخې دولتي چارواکو نه شول کولی د ولسمشرۍ په ټاکنو کې له کوم نومانده ملاتړ وکړي، له بده مرغه چې په افغانستان کې د قانون ځای زور او جنګسالارانو نیولی ؤ.

له ټاکنو وروسته آوازې خپرې شوې چې د کرزي لخوا په مزار شریف کې د عطا نور پر ځای جنرال دوستم ټاکل کیږي، دا مهال عطا نور د معمول په څېر د خپلو غورو او ډوزو تر څنګ د الجزیرې خبریال ته وویل:**«د طالبانو کرنې څو ځلې د دوستم له جنایاتو بهترې دي.»** هغه زیاته کړه:«د بلخ ولایت اوسیدونکو کلونه، کلونه د دوستم تر ظلمونو او فشارونو لاندې تېر کړي دي، د هغه استبداد او پراخ فسادونه یې لیدلي دي، دوی هېڅ کله حاضر نه دي چې بیا د داسې مشهور غله، لوټمار او فاسد کس مشري ومني.» (کابل پرس: جمعه 9 اکتبر 2009)

د ۲۰۱۴ز، کال له ټاکنو وروسته عطا نور له ډاکټر عبدالله سره له دې کبله مخالف شو چې عطا نور په خپله خوښه له دندې استعفاء لیک وړاندې کړی ؤ، اشرف غني چې له خدایه داسې ورځ غوښته سمدلاسه یې د هغه استعفاء ومنله او د بلخ د والي په توګه یې د جمعیت ډلې یو غړی انجنیر داؤد د ټاکلو حکم صادر کړ، عطا نور چې په خپله استعفاء پښېمانه ؤ، پر ډاکټر عبدالله او اشرف غني یې سختې نیوکې وکړې، هغه وویل اشرف غني انتخابي ولشمشر نه بلکې توافقي ولسمشر دی، هغه زما د ګوښه کولو حق نه لري.

عطا محمد پر ډاکټر عبدالله باندې د کنځلو باران وکړ، هغه یې د لستوني مار، جمعیت ډلې ته خاین او عزت پلورونکی وباله.

نوموړي په یوه غونډه کې وویل: «ډاکټر عبدالله خپل غابښونه زموږ په واسطه تېره کړل خو د خدای په امید غابښونه یې ورماتوم.»

هغه اشرف غني او عبدالله ته ګوتڼنده وکړه چې که چېرې زما پر وړاندې له زوره کار واخلئ، دفاع زما مشروع حق دی. عطا زیاته کړه چې که ولسمشر زما پر خلاف یو ګام پورته کړي، زه به لس ګامه ورمخکې شم.

عطا محمد نور چې یو غورتن هوایي جنرال ؤ د خپلو لاپو په لړ کې له آریانا نیوز سره په مرکه کې وویل:**«که [امریکایان] درې ورځې ووایي چې په تا کار نه لرو، که ارګ مې ونه نیولو دا هیواد به زه پرېږدم، په مدني حرکتونو سره، حتا پرته له وسلې څخه.»**

دا مهال چې جنرال صاحب عطا محمد نور خپله جنرالي هېره کړې وه او خپله کمزوري پوهه یې هم له لاسه ورکړې وه نو د ماشومانو په څېر یې ولسمشر غني او کورنیو چارو وزیر ته په ښکنځلو پیل وکړ، هغه وویل:**«پر ولسمشر او کورنیو چارو وزیر باندې ږغ کوم چې په دې کار کې لاس وهنه ونه کړي، موږ یو ځل بیا بحران ته بیایي، زه داسې څوک نه یم چې د نظام الدین بای [قیصاري] په څېر ما غونډې ته ورووغواړي او ومې تړي، والله که د دوی پلاران او نیکه ګان پر ما لار جوړه کړي.»**

عطا محمد د ټاکنو په اړه هم غوري وکړې ویې ویل چې حکومت ژمنې راسره کړې دي، که دا ژمنې پلې نه شي تر مرګه به د هغو پر وړاندې ودرېږم.

د اشرف غني د حکومت اجرایه مشر ډاکټر عبدالله د عطا نور په ځواب کې وویل چې هغه پنځلس ورځې وړاندې هوکړه کړې وه چې دنده به پرېږدي چې ولسمشر د هغه استعفاء ومنله. اشرف غني هم وویل چې په خپله پرېکړه ولاړ دی خو عطا نور د اشرف غني او عبدالله له خوا ټاکل شوی والي ونه منلو او د خپلې خوښې یو بل جمعیتي محمد اسحاق رهګذر ته یې خپله دنده وسپارله. عطا محمد نور وروسته له درې نیمو میاشتو مقاومت او ځوارلسو کالو واکمنۍ څخه له دندې ګوښه شو. (۱۳۹۷/۱/۲ل. ل)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

سره له دې چې عطا محمد نور له واکه گوښه شوی ؤ خو بیا یې هم جنایتکارۍ ډلې درلودلې، هغه د بلخ د ولایتي شورا غړی د ځینو مخالفتونو له کبله بندي کړ، شکنجه یې کړ او د عطا زوی یې پر غوږ خوله ولګوله، غوږ یې ترې غوڅ او بیا یې بندي کړ.



(اصف مومند)

اصف مومند وایي چې په هوایي ډګر کې د بلخ د والي عطا محمد نور کسانو وواهه او وروسته یې په ټانک کې د نور استوګنځي ته یووړ چې هلته د ښاغلي مومند په وینا، نور او د هغه زامنو ډېر وهلی دی خو د عطا نور ویاند منیر فرهاد بي بي سي سره په مرکه کې دغه ادعاګاني رد کړي، ویې ویل:«بل چا به وهلی وي.»

مومند زیاته کړه چې عطا نور خپلو کسانو ته وویل:«دښتي ته یې بوځئ تېر یې کړئ، نور نه په کارېږي.» (جوزا، ۱۳۹۶ل. ل)

وروسته له دې پېښې په کابل کې ځینو ځوانانو په خپل منځ کې یو بل ته په ټوکو ویل:«او بچه! د دان (دهن) سگ بتمت ...» موخه یې عطا محمد ؤ.

عطا نور یو بل احمقانه کار وکړ چې له امله یې په ټول افغانستان کې ورټل شو، د نور د سپکیدو لامل هغه ؤ چې په ۱۳۹۱ل. ل، کال کې د مزار شریف په ولایت کې د ابو مسلم خراساني په نوم سړک، د هغو ایراني ډیپلوماټانو (جاسوسانو) په نوم نومولو چې د ۱۳۷۷ل. ل، کال د زمري په ۱۷مه نېټه د طالبانو لخوا وژل شوي وو چې هغه مهال د طالبانو او ایران حکومت تر منځ خبره تر مخامخ جګړې ورسیده دواړو خواوو په پوله خپل ځواکونه چمتو کړل. عطا محمد په دې کار سره غوښتل ایران ته وښايي چې زه ستاسو یو مخلص ګوډاګی او غلام یم.

پر لومړیو کې عطا محمد نور د وزارت خوبونه هم لیدل، ده چې لوړ تحصیلات نه درلودل نو له خلیل زاد یې غوښتنه وکړه چې له هندوستانه یو جعلي سند ترلاسه کړي، زلمی خلیل زاد وایي چې هغه ما ته په پټه وویل:«په ما پام لره چې په عامه اداره کې له هند څخه یو سند ترلاسه کړم.» (زلمی خلیل زاد: استازی...: ژباړن: لطف الله لطف. ۲۳۸مخ)

خو عطا نور تر پایه د وزارت مقام ته ونه رسید، وزارت ته د رسیدو پر ځای په یوه ناڅاپي تېښته ازبکستان ته ورسید، د نورو جګړه مارانو په څېر یې پاچاهي پاتې شوه، ډېرې منقولې او نامنقولې شتمنۍ یې په هېواد کې پاتې شوې، بده خو لا دا چې د خپلو لاپو له امله چې ویلي یې وو «تر مرګه به له طالبانو سره جګړه کوي او تېښته به ونه کړي» تاریخ یې هم ناولی پاتې شو.



عطا محمد نور د ۱۹۸۸ز، کال په اګست کې د تخار په ولایت کې د خپل بادار جنرال ضیاء د فاتحې پر مهال د انځورونو د نښلولو په حال کې. (د منډیګک له ویبپاڼې څخه)

نېټه:۱۴۰۲/۲/۲۷ل. ل

**نور بیا**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ